مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لَوَنگی جبارخیل

۲۰۲۱/۰۴/۰۸

# ســاتـمـه

پــه تـصـور کــې زړه کـــرار ســاتـمه
څــه مـې چې وې هــغـه اقــرار ساتمه

ستا یـو انځـور سره ټـول ژوند ګوزاره
د زړګي سـر بـانـــدې یــو خـــار ساتمه

بـل کـوم هـمراز کـه راپیدا هم نه شو
پـاس پـر زړګي مـې ویـر انـبار ساتمه

که نور هیڅ شی مې هم ترلاسه نه کړل
ځـــان سـره بـس یــو یــکــه زار ساتـمه

کــه د رقـیـب پـــه ویـنـا بیا تـېـروتم
ښـــکاري لستوني کې یـــو مـار ساتمه

۲۰۲۱/۰۱/۲۶




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ